ملامت آنانند که بر مردم ظلم مي کنند

خداوند«ج» مي فرمايد : « هر آيينه واي (ملامت) بر آناني است که بر مردم ظلم مي کنند و در زمـين ناحق فساد مي طلبند و آنان را است عــذابي درد دهنده . »

(شورى - ۳۲)

شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك مركزي نشراتي ارگان

كسي بر كسي ستم نكند

از عيــاض رضي الله عــنه روايت است كه : رسول الله ﷺ فــرمود : هر آيينه خداوند «ج» بمن وحي نمود كه فــروتني كنيد تا كسي بر كسي ستم نكند و كــسي بر كسي نتازد .

(رواه مسلم - رياض الصالحين)

دوهم کال　پنځه گڼه　پرلپسي (۵۵)　چهار شنبه د۱۳۷۵ هـ ش كال ددلوي دمياشتي (۱۰)　د۱۹۹۷ميلادي كال جنوري (۳۱)　د۱٤۱۷هـ ق كال د رمضان المبارك (۲۰)

د اسلامي اردو اتل سپه سالار له «شريعت» سره په ځانگړي مرکه کي :

د اسلامی نظام ټینگښت می لوی ارمان دی

د اسلامی امت د گډو ارمانونو بیړي مو د نجات ساحل ته نږدي کړیده

دري سوه ټانگــــونه، دري سوه عرادي نقليه وسايط، تقريباً دوه زره ميله سپکــــه او درنه وســله په ډيره انــدازه ډول ډول جنگي مهــمات او لــوژستيکي مـــواد له دښمن نه غنــيمت شــويدي

د جبل السراج او سالنگ له فتحي وروسته د شمال ډيرو مشهورو قوماندانانو موږ ته د تسليمي پيغامونه راليږلي دي

د جگړي لمړي کرښي ته د نږدي کليوالو د ژوند د ژغورلو لپاره مو په موقتي ډول دوي ته د وتلو امر کړيدي

د طالبانو اســــلامي تحريک له پښتنو، تاجکو، ازبکو او نورو قومونو جوړ تحريک دي

بدن بي ټپي ټپي دي د جهاد په اړدو كي بي ډيري لوږي او ژوري ليدلي دي خو په تندي كي بي د غيرت او شهامت نښي له ورايه ځليري نرم برخورد او ورين تندي بي انسان هڅوي چي تل له دي شا زلمي سره په مجلس كي شريك كيدلي په ليدلو بي سمدستي په ذهن كي هغه مبارك حديث خطور كري چي (خير اوسي ټاسي سره مرسته نشي كيدلي او روزي نه شي دركول

كيدلي مگر ستاسو د ضعيفانو په خاطر) موږ چي كله له هغوي ته د ځان معرفي كولو غوښتنه وكړه نو داسي بي ووېل :

زما نوم مولوي داد الله اخند دي اود اســلامي اردو مــركــزي قــول اردو د قومانداني مسؤوليت را سپارل شويدي . موږ له هغوي نه وپوښتل چي د اسلامي جهاد په اوږدو كي مو په كومو جبهو كي د روسانو او كمونستانو په ضد په

عملياتو كي برخه اخستي ده نو داسي ځواب بي راكړ .

زه د حركت انقلاب اسلامي مربوط د مولوي اختر محمد اغا سره د قندهار د ولايت د جوي لاهور د سيمي د ناجيه يا تاګهان په جبهه كي په جهاد بوخت وم .

محترم ملا صاحب ستاسي پښه هم قطع ده او لاس مو هم معيوب دي دا راته ووايي چي دا دردوونكي حادثه تاسو ته

چيرته او كله پيښه شوه ؟

ځواب : پرو سر كال د فاسدي اداري په خلاف د عملياتو په دوران كي د كابل د دارالامان د سكو په تپه كي په ماين ور برابر شوم چي ددي چاودني له امله مي ټول بدن ټپي ټپي شو په روغتون كي بستر شوم نور وجود مي خــداي«ج» روغ كړ خو پښه مي قطــع شــوه او لاس مي هم معيوب پاتي شو .

دوهم مخ

دوهم مخ

محترم الحاج ملا محمد رباني رئيس شوراي سرپرست دولت اسلامي از مناطق مفتوحه در جبل السراج ، سالنگ و گلبهار ديدن به عمل آورد

دفتر مطبوعاتي رياست دولت به اداره هفته نامه «شريعت» خبر داد محترم رئيس شوراي سرپرست دولت اسلامي افغانستان در حاليكه محترم ملا محمد عباس اخند سرپرست وزارت صحت عامه ، محترم ملا خير الله (خير خواه) والي كابل و ملا فضل محمد اخند معاون وزارت دفاع با وي همراه بودند از سنگر ها و مواضع مجاهدين اردوي اسلامي در دهنه پنجشير ، شاهراه سالنگ و مربوطات جبل السراج و گلبهار ديدن نموده مجاهدين اردوي اسلامي را متوجه وظايف و مسووليتهاي شان در پرتو شريعت اسلامي نموده هدايات لازم را در مورد ارشاد فرمودند .

مساعــدتهــاي ســره مياشت در كــابل بــه مستحـــقين تـوزيــع گـــرديد

خــبرنگار شريعت گزارش داد طي هفته گذشته به ارزش قريب (۳) ميليارد افغاني، كمك و مساعدت جمعيت افغاني سره مياشت و كميته بين المللي صليب سرخ، كه شامل : ادويه جات، مواد ارتزاقي و البسه ميگردد ؛ براي (۲٦۹) فاميل مستحق ، (۱٤۵۵) معيوب، (۲۰۸) بيوه زن، در نواحي مختلف شهر كابل و يكتعــداد شفاخانه ها توزيع گرديد، پروسه تــوزيع اين مــساعدت ها و جلب كمكها از منابع داخلي و خارجي از طريق جمعيت افغــاني ســره مياشت و كميته بين المللي صليــب سرخ در شهر كابل ادامه دارد .

سارق يك تخته سنگ باستــاني كشور دستگــير گرديد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد سنگ متذكره كه به دوره (گريكو) باختر تعلق داشته قبلاً به سرقت برده شده بود توسط موظفين مبارزه با جرايم جنائي وزارت امور داخله در شهر كابل با عامل آن به اسم محمد نامر ولد رجب علي گرفتار گرديده و آثار قديمي ذكر شده كه مليونها افغاني قيمت دارد رسماً به موزيم ملي تحويل داده شد . قضيه تحت تحقيق و بررسي قرار دارد .

په كابل كي چاوديدونكي مواد ونيول شول

دري كيلو گرامه ترونيل ډوله چاوديدونكي مواد چي د كارتوگرافي او كادستر په لوي رياست كي ځاي پر ځاي شوي وه كشف او تر لاسه شول .

د شريعت خبريال خبر راكړ د احتساب وزارت د څلورمي اداري د رئيس د هلو ځلو له امله تيره ورځ دري كيلو گرامه ترونيل ډوله چاوديدونكي مواد چي دوران كارو او جنايت كــارو عناصرو له خوا د كــارتوگرافي او كادستر په لوي رياست كي ځاي پر ځاي شوي وه كشف او تر لاسه شول .

بعد از فتح جبل السراج و سالنگ ولسوالي هاي شينواري و سياه گرد غوربند فتح گرديد

خبرنگار شريعت از خطوط مقدم جبهه گذارش داد به تعداد دو هزار تن از افراد مسلح در آن ولسوالي ها (ص ٤)

(ص ٤)

يك شاهد عيني كه در همين اواخر به كابل آمده به خبرنگار هفته نامه «شريعت» گفت :

در كندوز اوضاع متشنج بود اما با آمدن سياف و حكمتيار متشنج تر گرديد

هر روز بر ضد حكمرانان وقت تظاهرات صورت ميگيرد

اداره خان اباد سقوط داده شد

خوانندگان گرامي يك شاهد عيني كه درهمين اواخر از كندوز به كابل آمده بود روي اوضاع سياسي و امنيتي آنجا به خبرنگار هفته نامه «شريعت» گفتگو داشته است كه با هم ميخوانيم :

شاهد عيني در پاسخ به يك سوال خبرنگار شريعت گفت ، وضع امنيتي در كندوز قبلاً نيز متشنج بود اما با آمدن سياف و حكمتيار به اين ولايت متشنج تر گرديد . اختلافات و خشونت ها بين قوماندانان هر روز افزونتر ميشود در اوايل برج قوس مردم به ضد حكام ظالم آنجا دست به تظاهرات وسيع زده ، در مسجد جامع وكيل عبدالرسول گرد همايي صورت گرفت مردم از رباني، حكمتيار و سياف خواستند تا دست ظلم و وحشت قوماندانان خويش را گرفته و اجازه ندهند كه آنها به اموال و ناموس مردم (ص٤)

(ص٤)

د هيواد د روان اقتصادي كړكيچ د حل په اړه له اړونده مراجعو سره مركي :

د سود نظام موختم كړي د مضاربت او مشاركت اصول مو پلي كړي دي

له ټولو تكنوكراتانو او اقتصاد پوهانو نه هيله كوو چي د اقتصادي نظام در غښت په اړه مشوري راكړي

ملي سوداگر دي د وطن په ابادي كي خپل رول ولوبوي

مونږه خپله خوښي د ملت په خوښي كي لټوو

د شمالي سيمو اوسيدونكي دي دوستمي پيسي نه ساتي او جنس دي پري واخلي

اوس يو ډالر په ۱۲۵۰۰۰ دوستمي نوټونو وركول كيږي

د طالبانو اسلامي تحريك د دښمنانو خــولي د شــريعت اوونيزي ماتي كړيدي

د افغانستان بانك لوي رئيس مولوي احسان الله «احسان»

د نرخونو د لوړوالي عمده لامل د دوستم او رباني لخوا د بي پشتواني نوټونو چاپول دي

د كابل ښار دكانداران : محمد رفيق، سيد حسين او عبدالعلي غوربندي

دولت دي سفايتي ومني او افغاني په ډالرو واخلي

صراف امين جان خوستي

دولت اسلامي از كشور هاي اسلامي و همسايه كمك مواد استهلاكي دريافت نموده وآنرابه قيمت نازل به هموطنان بفروش برساند

عبدالسميع (ولي) رئيس محاسبات وزارت ماليه

ملت در ساحــات مختــلف توليدي و صــنايع داخلي با دولت همكــاري نمــايد

عزيز الرحمن بنائي معاون سوم د افغانستان بانك و شينواري مدير عمومي پلان د افغانستان بانك

د رباني او د هغه د كمونستــو ائتيوالانو بد مرغي ائتلافي اداري كه له يوي خوا زموږ مظلوم مسلمان ملت د ډاروتو په اور كي وسوگاوه له بلي خوا بي د قحطي او قيمتي ډالي هم له دي ناوړين ځخه كمه نده، د فاسدي تشتدلي اداري منفورو چارواكو د ملت ټوله شتمني د خپل ناروا هوس قرباني كړه . د بي حسابه بي پشتــواني نوټونو په چاپولو بي پولي «تورم» رامنځته كړ او اولس بي له انفلاسيون سره مخ كړ . موږ په دي اميد چي كه وكولي شو دي بحران دوهم مخ

دوهم مخ

در ولايــت خوست يك تــن رشوت خور دستگـير گــرديد

يك تن از كــارمندان مـحكمـه ولايت خوست حين گرفتن رشوه توسط منسوبين احتساب آن ولايت بالفعل دستگير و به پنجه قانون سپرده شد .

خبرنگار هفته نامه «شريعت» گذارش داد اسامي شاهسوار عضو محكمه خوست در حاليكه مبلغ پنج هزار كلدار را طور رشوه اخذ ميداشت توسط منسوبين احتــساب ولايت خوست دستگير و جهت باز پرس به پنجه قانون سپرده شد .

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

چرا دولت مردان ايران در هراسند؟

شب ۷ دلو ۷۵ راديو بي بي سي از قول يكي از جنرالهاي ارتش ايران بنام محسن انصاري گفت كه : « ايران در مرز شرقي خود متصل بروز طالبان در افغانستان با مشكلات روبرو است » فهميده نميشود كه بزرگان ايران از جانب تحريك اسلامي طالبان براي چه احساس خطر ميكنند ؟

زيرا تحريك اسلامي طالبان از زمانيكه براي اقامه امن و قوانين شريعت اسلامي و اعاده حيثيت جهاد و تكميل ارمان تقريباً صد هزار شهداي كرام «رح» بكار آغاز نموده اند تا اينكه در اكثر ولايات كشور بفضل و كمك خداوند تعالي امنيت را قايم و شريعت را نافذ كردند هيچ عملي بر خلاف هيچ يكي از همسايگان افغانستان انجام نداده اند كه موجب نگراني آنها شود، همه سعي و تلاش شان در راه رهايي مردم مظلوم خود شان از دست غارت گران بي رحم و فاجر بوده است و اراده دارند كه در تمام ولايات كشور بفضل و مرحمت خداوند تعالي چنين كاري شود . تحريك هميشه خواسته و ميخواهد با همسايگان و تمام ممالك جهان در فضاي صميميت و زيست باهمي نيك و احترام بيك ديگر زندگي كند .

در اينصورت اگر حاكمان ايران اظهار نگراني كنند جز بهانه اي براي مداخلات گسترده، بيش از اين كه اكنون ميكنند تعبير و توجيهي ديگر نخواهد داشت، زيرا بهر كس معلوم است كه گريخته گان (ص۲)

(ص۲)

د جگړي پر ځاي سوله او د ائتلاف پر ځاي واحد اسلامي مركزي حكومت غواړو

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ایډیټورۍ هیئت تر نظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتکي»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۲۰۰) افغانۍ
په پاکستان کې (۲) کلداري
پته : کابل وزیر اکبر خان مینه / سرک ۱۵ / کور (۵۰)
تیلفون : ۲۲۳۸۱ – توزیع و شکایات ٦٢٨٥٩
پوست بکس : (۵۷۹)
په پېښور کې : دطالبانو نمایندګي / تیلفون: ۸٤۰۳۳۱

بقیه سرمقاله

اداره، رباني در کمپ هاي نظامي ایران تربیه دیده و مسلح شده و به این سوي مرز به غرض تخریب کاري فرستاده میشوند که بار ها با سلاح دولتي ایران از طرف نیرو هاي بیدار امنیتي کشور ما گرفتار شده اند، همه میدانند که براي افراد اداره رباني قبل از فرار به بگرام و بعد از آن به بامیان و تالقان طیاره هاي حامل اسلحه ، مهمات و مواد خوراکي و لوژستیکي پرواز هاي آشکارا و پیهم داشته و دارند، همه گان خبر است که اداره، معزول شده و فراري رباني که جایي قابل حساب در افغانستان ندارد ولي هنوز هم بنظر دولت ایران دولت قانوني و رئیس جمهور (!) رسمي افغانستان است تحریک اسلامي طالبان که بر اکثریت خاک افغانستان تسلط دارد، امنیت را قایم و اسلحه را جمع آوري و در دیپو هاي دولتي جابجا کرده و به فضل خداوند تعالي و کمک و همکاري مردم خویش براي انجام کلي این پروسه موفقانه به پیش میروند متأسفانه هنوز هم بنظر دولت مردان ایراني از گروه هاي درگیر افغان نامیده میشود !!! ، مبصرین سیاسي را چه بحساب بیاوریم که مردم عادي به این روش منصفانه (!) دولت ایران آفرین (!!) میگویند این دید بي احترامي به یك دولت مشروع و مسلط و نماینده مردم افغانستان نشان میدهد که ایران همه روابط و مناسبات همسایګي را نیز – اگر اخوت اسلامي را نمیخواهد – عمداً از نظر انداخته، کوته نگري متکبرانه و آمیخته با تحمیق نسبت به دولت اسلامي افغانستان را میرساند .

با در نظر داشت این همه گردهمایي هاي ریاکارانه را که بنام حل مشکل بهبود حال زار مردم افغانستان دایر میکنند و در آن به کلمات شیرین و همدردانه عصبي اظهار غمخواري میکنند اینهمه براي اینکه مردگان سیاسي محبوب خویش را (رباني و اتلافیان وي) به دم مسیحایي خود دو باره زنده کند و با دولت اسلامي افغانستان در یك پله ترازو یا بالا تر از آن بنشانند ؛ اینهمه براي مردم رنجدیده ولي با شهامت افغانستان کفایت میکند که یك عالم تشکر از غمخواري همسایه مهربان خویش ابراز دارند ؛

کانفرانس تهران در شنبه گذشته ٦ دلو ۷۵ که بنام تلاش براي صلح (!!) در افغانستان دایر شده بود مانند گذشته بر مبناي نیت صحیح و مخلصانه نبوده و از همین جا پیامد و نتیجه اي نداشت زیرا براي دولت اسلامي افغانستان – که هنوز هم بنام گروهي یاد میکنند – دعوت نامه اي بر وقت مناسب فرستادند فقط مصلحتاً با ساعات تدویر کنفرانس یك پارچه نوشته، غیر رسمي بدون مهر و امضاً و بدون رعایت هیچگونه آداب دیپلوماتیکي بدست یکي از مامورین دولت اسلامي افغانستان رسید که آنگه براي هیئت دولت اسلامي افغانستان در کانفرانس مذکور فرصت از دست رفته بود .

از این بر مي آید که حکومت ایران میخواهد دولت اسلامي افغانستان را غیر جانبدار صلح و امنیت در کشور وانمود سازند و یك دلیل دیگر نیت هاي غیر مخلصانه شان است ؛ آنکه رادیو مشهد بنام فرداي آن روز دلیل عدم اشتراك دولت اسلامي افغانستان را از قول رئیس شوراي سرپرست دولت اسلامي سرپرست دولت اسلامي افغانستان از سوي شرکت کنندگان ابلاغيه وانمود کرد، از ساخت و بافت خود رادیو مشهد است که بوي اهانت و تمسخر از آن بر مي آید، نه از قول نیکمردان هوشمند دولت اسلامي افغانستان. با اینهمه توقع ما از بزرگان دولت ایران اینست که با درك حقایق و واقعیت ها آینده نیك و زیست برادرانه را با مردم مسلمان افغانستان زمینه سازي کنند و از عملکرد هاي گذشته که آینده همسایگي مسالمت آمیز را تاریك میسازد بسوي برادري و اخلاص رو آورند .

والسلام

د اسلامي اردواتل سپه سالار ...

پوښتنه : د وروستیو فتوحاتو په نتیجه کې څومره وسله او مهمات د اسلامي اردو د مجاهدینو لاس ته ورغلي ده ؟

ځواب : تاسي خبر یې چې په دې ورځوکې د اسلامي اردو سپاهیانو دوه بشپړ ولایتونه تصفیه کړل چې په دومره کم وخت کې د وسلو ، ټانکونو او مهماتو دقیق شمېر معلومول مشکل کار دي خو تر اوسه چې موږ ته کومه وسله په لاس راغلي ده په هغوي کې تقریباً دري سوه چینه ټانکونه، دري سوه عرادي موټر او نقلیه وسایط، دوه زره میله سپکه او درنه وسله، پنځلس پایې چهل میله، دوه پایې D.C او M.C توپونه څلور اوراګان او په ډېره پیمانه نوره مختلف النوع وسله او مهمات شامل دي .

پوښتنه : اوس د جګړي لمړي کرښي په کوم ځاي کي دي ؟

ځواب : د سالنګ په استقامت زموږ اتل ځواکونه د سالنګ په دره کي دوه کیلو متره وړاندي تللي او اوس مو همدلته لمړي خط جوړ کړیدي او د پنجشیر په استقامت هم زموږ مجاهدین یو کیلو متر د پنجشیر په دره کي وړاندي تللي دي او د پنجشیر پل سره چي لړزیدلو او تښتیدلو ملیشو د ځان له ویري تخریب کړیدي یې لمړي خط جوړ کړیدي .

پوښتنه : تاسو د خپل بري رمز په څه کي وینې ؟

ځواب : موږ د اللهﷻ د دین د لوړتیا او د همدې لوي ذات د رضا د حصول لپاره قیام کړیدي، موږ د خداي ﷻ د دین لښکر یو او لوي خداي د خپل دین د سپاهیانو ناصر او مرستندوي دي .

دوهمه خبره دا ده چي صفونه مو منظم دي، نظم ، دسپلین او اصول لرو، د ملت له ملا تړ نه برخمن یو، د امیر اطاعت کوو الحمد لله افراد او مشران مو ټول تقوي داره دي د خداي ﷻ نه ویره لري، او بله دا ده چي فتح او بري د مادي امکاناتو او افرادو په ډېرښت او کمښت پوري اړونده نه دي فتح په تقوي، اخلاص، شهامت غیرت او سر ښندني کي نغښتي او زموږ ټول وروڼه له دي لوي نعمت نه برخمن دي .

پوښتنه : داسي اوازي دي چي تاسي له فتح شویو سیمو نه د سیمو خلکوته د وتلو امر کړیدي که لږ په دي اړه وضاحت وکړي چي دا کوم نظامي تکتیك دي او که کوم بل هدف لري ؟

ځواب : حقیقت دا دي چي موږ هغو کورنیو ته په موقتي ډول د وتلو امر کړیدي چي د جګړې په لمړیو کرښو کي اوسیږي او دا امر مو د همدوي د ژوند د تحفظ لپاره کړیدي ځکه چي هلته هره شیبه د جګړي او بمبارد احتمال دي. له دوي پرته مو د هیڅ سره کار نشته او هغه څوك چي خپل ځان د امن سیمو ته رسوي تر خپله وسه ورسره ترانسپورتي ، او نوري مرستي هم کوو .

پوښتنه : ستاسو راتلونکي پروګرام څه دي ؟

ځواب : اوس زموږ مجاهد طالبان په تصفیه بوخت دي له تصفیې وروسته موږ د دښمن د مقابلې پوره توان لرو او خپلو کړېدلي ملت به د برغملیانو له منګولو خلاصوو . اوس هم د جبل السراج او سالنګ له فتحې وروسته د شمال ډېرو مشهورو قوماندانانو موږ ته د تسلیمې پیغامونه رالیږلي دي

پوښتنه : په کمربند کي د اتلو طالبانو مجموعي شمېره څو ته ده .

ځواب: همدا اوس زموږ په لمړي کمربند کي د څلور زرو په شاو خوا کي طالبان خپل کمربند ساتي .

پوښتنه : د طالبانو اسلامي تحریك له قندهار نه نیولي تر کابل پوري ټول ولایتونه فتحه کړل خو له هیڅ مشکل سره مخ نه شول ستاسو په نظر څو میاشتي د مخه په شمال کي په اصطلاح د ملي قیام !!؟ انګیزه څه وه او ایا رښتیا همدا ملي قیام و ؟

ځواب : د طالبانو اسلامي تحریك یو سوچه اسلامي حرکت دي او په رښتینې ډول د اسلام نفاذ غواړي او ښکاره خبره ده چي د اسلام دښمنان که بهرني دي که داخلي حقیقي اوسو چه اسلامي نظام زغملي نه شي نو په طالبانو پسي یې ډېرجن تبلیغات پیل کړل بهرنیو راډیو ګانو هم پروپاګند پیل کړ او تښتیدلي اداري هم د پښتو او فارسي شعار عنوان کړ او د شمال خلکو ته یې ډېر بد تاثر ورکړي و او بله دا ده چي مسعود او دوستم خپلو جاسوسانو ته ډېري پیسي ورکړي وي چي ټول ولس د طالبانو د اسلامي تحریك په ضد راوپاروي ، د سقاو د وخت کیسي ورته شوي وي. خودي ټولو شیطاني هلوځلو هیڅ نتیجه ورنکړه نه ورسره ولس ودرید او نه یې چا ملا تړ وکړ براژي هماغو ایجنټانو بغاوت وکړ چي د طالبانو له عمومي عفوي نه یې ناوړه استفاده وکړه چي وروسته د خپلو ناروا اعمالو په سزا ورسول شول نه ورسره ملت ملګري و او نه چا قیام کړېدي دا هسي د دښمن تبلیغات دي

پوښتنه : د سیمو خلکو له تاسو سره د عملیاتو په وخت کي څه همکاري وکړه، او تاسي له هغو غولیدلو کسانو سره څه برخورد وکړ ؟

ځواب : څه چي د ملت په وس کي پوره و له موږ نه یې ونه سپمول زموږ استقبال یې وکړ خاینان یې را په ګوته کړل او هغه کسان چي اصلي مجرمان و یا تښتیدلي او یا د خپلو اعمالو په جزا رسول شویدي او کوم کسان چي غولول شوي و او بیرته د طالبانو د اسلامي تحریك په حقانیت پوه شویدي خپل تقصیر یې منلي دي، زموږ سره یې د همکاري لاس راکړیدي او موږ هم ورته عمومي عفوه، کړیده، دوي ولیدل چي د طالبانو په صفونو کي پښتون ، ازبك او تاجك ټول شامل دي او په ګډه د فساد او ظلم په خلاف جنګیږي .

پوښتنه : طالبانو ولې څو میاشتي د مخه له دي سیمو څخه شاتګ وکړ ؟

ځواب : پخوا طالبان په دي سیموکي نا بلده ولاړي ورته معلومي نه وي استراتیژیکي سیمي ورته معلومي نه وي نو تکتیکي شا تګ یې وکړ اوس الحمد لله طالبان هلته بلد شویدي د سیمي خلك ورسره همکاري کوي او له پخواني تجربي نه یې درس واخست اوس چي کومي سیمي ونیسي نو بشپړه تصفیه یې کي کوي او بیا مخکي ځي د طالبانو تیر شاتګ تکتیکي او اوسني برياوې ددې دعوې ثبوت دي .

پوښتنه : داسي اوریدل کیږي چي له فتحي وروسته په چاریکارو او جبل السراج کي څو وسله والو خلکو د عوامو په اذیت لاس پوري کړېدي او د بیت المال په شتمني پسي یې را اخستي ده که دا رښتیا وي نو تاسو ددې د مخنیوي لپاره څه اقدام کړېدي ؟

ځواب : زه ټولو هیوادوالو ته اطمینان ورکوم چي طالبان هیڅکله دا کار نه کوي دوي د همداسي مظالمو او فجایعو په ضد قیام کړیدي خو ځني شریر او د ملت دښمنان چي د طالبانو له جامې نه ناوړه استفاده کوي په دي عمل بوخت دي چي ډېرېي ګیر شول همدا نن مو په سالنګ کي یو تن چي د طالب په جامه کي یې غلا کوله ګیر کړي دي نوموړي د همدې ولسوالي اوسیدونکې و موږ هم د نورو د عبرت لپاره د ده مخ تور کړ په بازار مو وګرځاوه او اوس هم بندي دي .

موږ ټولو مسلمانو وطنوالو ته اعلان کوو چي که داسي افراد یې ولیدل اسلامي دولت ته دي یې په لاس ورکړي او یا دي یې پري خبر کړي .

پوښتنه : ستاسو د ژوند تر ټولو لویه خاطره او لوي ارمان څه دي ؟

ځواب : زما ژوند ټول خاطري دي زما د ژوند لویه ترازیدي همدا ده چي ځنو طالبانو مو د مقدس جهاد ارمانونه خاوري کړل او د شهیدانو په وینو یې تجارت پیل کړ ، او لوي ارمان مي هم دا دي چي لمړي د خپلو کونډو او یتیمانو ارمان تر سره کړم او په افغانستان کي اسلامي نظام قائم شي او بیا په ټوله نړي د اسلام د عدل او انصاف بیرغ ورپوم .

طالبان دشمن فرهنگ نیستند!

محمد منیر

تا جائیکه تحلیل و فکر شده بنظر میرسد که در اذهان یکتعداد مردمان ما و بیقراران منطقه، این طرز دید و تصور چسپیده و یا تزریق شده است که گویا تحریك اسلامي طالبان، در عرصه سیاست فرهنگي کشور چندان دلچسپي و علاقمندي ندارند و استناد به این میکنند که تا کنون دروازه هاي مکاتب و دانشگاه ها به رخ شاگردان و دانش آموزان ما مسدود باقي مانده است .

تحریك اسلامي طالبان در حالیکه این تصور و اندیشه را جز خیال پوچ و بي بنیاد ، فره، بیش نپنداشته تاکید میدارند : مدرسه، که طالبان در آن تعلیم دین مي آموختند آن علمیکه در نفس خویش مهمترین ستون و پایه فرهنگي جامعه ما را تشکیل میدهد: اگر طالبان به فرهنگ دانش علاقه و دلچسپي نمیداشتند پس ضرورت طالبان در دیار هجرت، تنگدستي و همه مشکلات زندگي بجاي کسب و کار و حصول مال اختیار کردن کنج این مدرسه ها از چه بابت بود ؟

ازین گذشته بضرورت علم و دانش در زندگي انسانها پي برده اند همانگونه که انسان بدون رژیم غذائي حیات بسر برده نمیتواند، جامعه نیز بدون فرهنگ و دانش در جوامع زنده و متحرك بحساب نمي آید، فرهنگ به مشابه روح جامعه تلقي شده؛ پس چگونه امکاني موجود خواهد بود که بتوان زنده جان را بدون روح حیات بخشید ؟

تحریك در حالیکه در مضیقه، شرایط اضطراري و تنگناي اقتصادي قرار دارد با اینهم بتمام توان و استطاعت میکوشد؛ تا سیاست فرهنگي جامعه خویش را هر چه بیشتر تقویت بخشیده و در جهت زنده نگهداشتن پدیده ها و تاریخ فرهنگ جامعه، خویش را به شکل و نوع شایسته و موجه آن عیار نماید .

تحریك در محدوده مدت کوتاهي در مناطقیکه اداره آن را بدست گرفته و بقلب کشور عزیز رسیده است با امکانات ناچیز و کیسه تهي توانسته است در عرصه سیاست فرهنگي کشور، دارنده، افتخارات بیشماري باشد ؛ نشرات رادیو صداي شریعت نشر مسلسل روزنامه انیس، هیواد، ستوره مجله اردو ، کابل تایمز و هفته نامه شریعت (ارګان مرکزي نشراتي تحریك) در عاصمه کشور، مجلة خلافت نشر پیهم جراید و روزنامه هاي : ننګرهار، طلوع افغان، اتفاق اسلام و سنائي در ولایات کشور ؛ احیاء مجدد مطبعه دولتي، ایجاد مطبعه کمپیوتري در قندهار؛ بازگشایي مجدد انستیتوت طب ننګرهار، توجه جدي در امر تلفیق و حیازت آثار مفروق شده باستاني موزه، ملي کشور؛ باز گشایي کتابخانه عامه، توسعه و بذل مساعي بیشتر به اداره ملي المپیك و جلب کلیه ورزشکاران افغاني از داخل و خارج کشور در یك حلقه همگاني و ... به مصداق آن چه گفته آمدیم مهر تائید میگذارد .

تحریك طالبان هیچگاه طرفدار مسدود بودن دروازه نهاد هاي فرهنگي کشور، دروازه هاي مکاتب و دانشگاه ها نبوده تحریك به قلم بدستان و اهل فرهنگ کشور خویش، حرمت و ارج فراوان قائل است و هر کدام شان را جزء و پاره اي از افتخارات کشور عزیز مي شمارند بالاي شان لازم و ضروري است که براي روشن نگهداشتن شمع علم و معرفت به سرگرمي پیهم دست بکار شوند تا هدف مشترك که رضاي پروردگار خدمت به مردم رنجدیده و ستم کشیده، شان چیزي دیگري نیست به مدد یکدیگر برسند .

طالبان در خدمت مردم خود هستند و انشاء الله تعالي تا پایان زندگي خواهند بود . و وعده میدهند که انشاء الله تعالي در وقت قریب با برچیدن آخرین نقش سیاه و ژولیده، گلیم شر و فساد در کشور؛ نه تنها دروازه هاي تمام مکاتب و دانشگاه ها بر روي شاګردان و دانش آموزان مسلمان، با ایجاب و مراعات اصول و قواعد اسلامي باز خواهد شد ؛ بلکه در جهت ترقي و پیشرفت سیاست فرهنگي کشور پاینده افتخارات سترگ خواهند بود و آنگاه این خیال پوچ و بي بنیاد که در اذهان بعضي از بیقراران منطقه؛ تزریق گردیده، هویت اش را کاملاً از دست خواهد داد و حقایق را درك خواهند کرد .

والتوفیق من الله تعالي

د شریعت تبصره

طالبان د ښځو د حقوقو اصلي ساتونکي دي

د حقوقي اسنادو په جلاوو کي د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت سرمنشي مېرمن راپین رافیل یو ځل بیا ځان په تکلیف کړي او پاکستان ته یې په خپل یو رنګه وینا ځکه !!! راپین رافیل د خپل سفر په ترڅ کي د طالبانو د اسلامي تحریك له یو مشر سره وکتل ، که څه هم د طالبانو اسلامي تحریك دوي کتني نتیجې ته ډېر امیدواره نه وو ځکه دوي پوهېدل چې د ګنځسر نه د خیر ظمعه مسي په اوبو د نقش مثال لري، او همداسې وهم شول د دغي کتنې په بهیر کې د نړیوالو راپوهرګندو له څېړونه دوي .... !! د افغانۍ (امتحانه ابلاغات) یې تر څنګه وړاندې د طالبانو په لاس جوړ شوي اسلامي حکومت په رسمیت پېژندنې تر څو یې ښځو ته بشپړ حقوق نه وي ورکړي ، نړیوالو والوريدو، د دوي سیاست مداري او بیا د ..... ابلاغاتو په څېر د یو لوي هیواد (امنیتي او بهرني) د بهرنیو چارو د وزارت د سرمنشي په توګه د راپین رافیل ..... وینې دوي له ستان ...... دوي ..... راپین رافیل د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت سرمنشي او ددې هیواد ..... د ښځو د حقوقو د کوم ..... او ..... دوي د هیلې کېدو ..... دوي ..... طرحي او د حل محتویات ..... ددوي دا ..... ګویا راپین رافیل له امریکا نه ددې لپاره راتلل شوي او ..... د افغانستان اسلامي دولت ښځو ته د حقوقو په ..... کولو اقدام کړي نور مشکل حل دي او ددوي حکومت به په رسمیت وپېژندل شي خو خبره دا نه ده امریکا او مرسته د ښځو له .... سره نه ده چې ددوي حقوق دي د یو هیواد د په رسمیت پېژندلو لپاره معیار او شرط و ګرځوي. ددوي اسلام له خمه ظلم او قانون سره مخالف لري، چې خمه د نړیوال اسلامي امت شریکه ارمان او پوهاشې ..... ده چې خمه د خداي ﷻ په څنګه د خداي د قانون نفاذ او د وضعي قوانینو خاتمه ده ، که راپین رافیل او امریکا د ښځو د حقوقو رښتیني محافظین وي ، نو چې په بوسنیا کې (او ......) یې ولې سرپانو په بوسنیا یې ..... مختلف تجربونو وکړل او په یو ځل یې ..... عصمته ..... کړي او په السهٔ ..... وحشت ورسره وکړ چې ظلم یې له ..... شوي نو د ښځو د حقوقو دي بین المللي ..... کرم او ..... له دوي

دا چې په کشمیر کي هره ورځ ..... د ظالمو ..... د ښځو چې په ..... کي د ..... د حیا او عزت (ګوتد) ..... د روسانو ..... ګڼه تصیري شوه دا چې روسانو او د هغوي د ..... لاس له یو ..... ښځې ..... شوي، دا چې ۱۱۳۵۸۹ تنې کابل کې د عصر ..... (...) د سرو وحشیانو د ..... او ..... په خلاف د لوي ..... په ملګرتیا د کابل په دا .... کي ..... او ددوي ..... یې په ..... شوي او د شهادت جام یې ..... دا چې د کابل د ..... !! په دوخت کې په ..... د ټولګیز .... او د (شیعه ، سني) د تعصب ..... شوي، په ..... ښځو ..... شول ، دا چې د وحشي .....

..... په خپل ناموس د تیري د ویري له امله زموږ بېلي ناهیلي ځان د مکروریان له ..... هیر ..... او په خپل بزار یې د .... ټوله وه تو دا د ښځو منافع ورکړل ..... چیرته وو او په دوي یې ..... د خپل ترحم .... دوي څو نه په افغانستان کي د وخت حکمرانان او نه هم هند او چیچن او نه هم د سرستان د حکومت مشران تهدید کړل نه یې په نه رسمیت پېژندلو وویرول او نه ..... حتي تللي هم وو نه ..... کې .

او ایا په بین المللي اصولوکي د یو داسي حکومت ایجي له ټولو ملي او بین المللي ټولوموسو سره برابري د پایتخت په ګټونو د هیواد له اتیا په سلوکي ډېره سیمه یې په لاس کي وي، هیواد یې له یو لوي ناورین نه خلاص کړي وي د ملت له بشپړ ملاتړ نه برخمن وي) په رسمیت پېژندلوکي دا شرط هم شته چي د نړیوال استکبار ..... دي وساتي او د هغوي هر خط دي تعقیب کړي . که فرض کړو چي دوي په خپله وینا ګي صادق دي نو سوال دا پیدا کیږي چي ایا د طالبانو اسلامي تحریك د ښځو په حقوقو رښتیا هم خپله .... ده ؟ که څه کې د افغانانو له مذهب، کلتور او عنعناتو نه ځان لر، هم خبر کړي نو د پورتني سوال ځواب به حتماً په (نه) سره ورکړي هر څوك او هره ټوله ګڼاته بېل بېل مذهب کلتور او عنعنات لري او خلك هم خپل مذهب او کلتور ته په کتنه د حقوقو د کلمي له مفهوم نه مختلف تعبیرونه کوي چي هغه څه چي امریکایان او اروپایان یې (حق) ګڼي افغاني خویندي یې د خپل عفت توهین بولي او ځني هغه څه چي هغوي یې د ښځو په حقوقو تیري بولي دوي یې د ښځو حق بولي . نو ایا خپل کلتور په یو داسي غیور قوم چې دا ورته له خپل مذهبي، دو داو دستور سره کاملاً مخالف ښکاري په زوره تپل د نړیوالي دیموکراسي خلاف عمل نه دي . د طالبانو د اسلامي تحریك مشرانو هر وخت په وار وار ویلي دي چي موږ د ښځو د حقوقو اصلي محافظین یو دوي مو له لوي وحشت نه خلاصي کړي دي خو دا چي له دفتر نه ایستل شویدي وجه یې دا ده چي شرایط جنګي او برابر نه دي او کوم ځایونو کي چي د ښځو د کار لپاره ښتونې اړتیا ده اوس هم په کي کارکوي لکه روغتونونه او کلینکونه .ایا دا د ښځو د حقوق درناوي نه دي چي په ارام او اطمینان په کورکي ناستې دي او پوره معاش یې ورکوي .

همدا اوس د ښځو د حقوقو په مدعي هیواد او د رافیل په ټاټوبي کي د ښځو معاش له نارینه و نه په عمومي توګه څو فیصده کم دي دوي هلته ولي دا شعار نه پیاده کوي. دوي داسي یوه ټولنه چي هره ورځ په کي سلګونه ښځي طلاقیږي له دګې یوي ټولني سره چي هم یې د ښځو او یې د نارینه و افغاني غرور او اسلامي احساس طلاق له هر څه بد عمل ګڼي ولي مقایسه کوي نو اوس راپین رافیل ته په کار دي چي خپلي تیري څرګندوني بیرته واخلي او د خپلې سهوې جبران وکړي .

د هیواد د روان اقتصادي کړکیچ د حل ...

نه د حل لاره پیدا کړو، پدې اړه مو د څو تنو تجاراتو، دکاندارانو، اقتصاد پوهانو او افغانستان بانك له لوي رئیس محترم مولوي احسان الله «احسان» سره مرکي کړیدي چي په ګډه یې لولو .

په پیل کي مو د کابل د نوي منډوي د نواب په سراي کي د میدان ښار له اوسیدونکي تجار محمد رفیق سره د ورځنۍ اړتیا وړ موادو د نرخ په اړه خبري کړیدي، محمد رفیق موږ ته ددې پوښتنې په ځواب کي چي په تیرو دوه و اونیوکي د غوړیو او بورې په قیمت کي څومره توپیر راغلي دي داسي وویل : دوه اونۍ وړاندې دیوې کیلو بورې قیمت ۱٦ زره او دیو کیلو غوړیو قیمت ۳۳۰۰۰ افغانۍ وو خو تن دیوې کیلو بورې بیه ۱٤۳۰۰ او د یو کیلو غوړیو بیه ۳۰۰۰۰ افغانیو ته را ټیټه شویده همدا راز په باغ قاضي کي مو د وړو له یو تن تجار نه چي له خپل نوم یې سید حسین او د وردګو د ولایت اوسیدونکي معرفي کړ د وړو د بیې په اړه وپوښتل هغه راته وویل چي د دوه تیرو اونیو په نسبت د وړو د یوې بورۍ بیه ۳۵۰۰۰۰ افغاني رالویدلي ده تن «ندیم» وړه د افغانستان یومن (اوه کیلو) په ٤۰۰۰۰ زره ، «عادل» وړه ۳۹۰۰۰ او «فاروقي» وړه په ۳۸۰۰۰ افغانیو پلورل کیږي او د نرخونو د را لویدلو وجه د اسلامي اردو وروستني فتوحات دي .

سید حسین زموږ د یوې پوښتنې په ځواب کي وویل چي زموږ د خپل هیواد غنم به هغه وخت زموږ لپاره بس شي چي ټول وطن کي امنیت راشي او ټول کروند ګر خپلي ځمکي وکري . په چنداول کي مو له یو تن لرګي خرڅوونکي عبدالعلي غوربندي نه د لرګیو د نرخ پوښتنه وکړه هغه راته وویل چي نن د یو من بلوط لرګي بیه ۸۰۰۰ او د ارچې ۹۵۰۰ افغاني ده .

عبدالعلي غوربندي ته مو وویل چي لرګي خو زموږ د خپل وطن محصول دي ددي بیه ولي دومره لوړه تللي ده ؟ هغه ځواب راکړ چي له یوي خوا دلته د لرګیو په انتقال ، د موټر کرایه ، د مزدور اجوره، د کراچۍ پیسي او نور متفرق مصارف راځي له بلي خوا موږ هم په همدې ښارکي اوسیږو او د خپل ورځنۍ اړتیا وړ مواد همدلته اخلو نو که موږ لرګي له دې ارزانه وپلورو له بازار د خپل اړتیا وړ مواد نه شو پوره کولي .

له محمد رفیق، سید حسین او عبدالعلي نه مو وپوښتل چي ښاروالي تاسوته نرخنامه درکوي او که نه ؟ دوي داسي وویل : ښاروالي د هغو موادو نرخنامه ورکوي چي زموږ د وطن محصول دي او د هغو موادو نرخنامه چي له بهرنه واردیږي ځکه نه شي ورکولي چي د اسعارو قیمت ثابت نه وي زموږ ټول ژوند په صرافانو او سیکړي پوري تړلي دي د بازار نرخونه هم له همدې ځاي نه ټاکل کیږي .

له دوي مو وپوښتل چي دا د بازار نرخونه ولي اسمان ته وختل ؟ داسي ځواب یې راکړ :

د نرخونو د لوړوالي یو لامل بازار ته د افغانیو ډېر عرضه کیدل دي. رباني او دوستم دومره یې پښتواني نوټونه چاپ کړیدي چي د نړي په تاریخ کي یې ساري نه لیدل کیږي اوس هم چي له کابل نه تښتیدلي دي او د شمال په غاړونو کي د خیالي څلوروم مخ

د وسلو غمونه

سمیع الله «سمیع»

پیدا په هر وطن کي شي جنګونه له وسلونه — سوځیږي په اورونوکي ګلونه له وسلو نه
توییر د کور او کلي د ښارونو سره نه شي — وران شوي چي بو رنګ کلي ښارونه له وسلونه
اظهاریږي چي له ویري هم له ځانه سر نه شي — د ډیر و زړوکي پټ ګڼه رازونه له وسلونه
ښکاره بي هر سړي د سر په سترګو باندي ویني — جوړیږي او ړنړیږي چي تخښتونه له وسلو نه
ملکي د آسمان ورته هیڅکله نه راګوري — بادیږي په کوم ملک کي چي اورونه له وسلو نه
علاج یي بي له خدایه«ج» طبیبان کولي نه شي — په کوم ملت چي جوړوي پرهرونه له وسلونه
ځوانان په بدو چارو بدو لارو باندي بیایي — رواج شي هر وطن کي فسادونه له وسلونه
چي کرکه د مظلومو ترینه تل مدامي کیږي — مظلومو باندي تل شوي ظلمونه له وسلونه
باران د رحمتونو چي په کوم ځاي نه وریږي — امان غواړي له خدایه بارانونه له وسلونه
هستي د ټول جهان ترینه نن هسي په خطر ده — خالي که چیري نه شي هیوادونه له وسلو نه
بوازي زمکه نه ده چي سوري په زړګي ښکاري — سوري سوري په زړه دي اسمانونه له وسلونه
دا قهر او غضب د الهي دي بل څه نه دي — په کورکي مو چي شنه دي ګودامونه له وسلونه
وطن مو چي په وینو نن خړو به شاني ښکاري — روان دي پسري د وینو سیلابونه له وسلونه
هر ځاي کي چي قبرونه، ادیري مو په نظر شي — دا ټولي ادیري دي او قبرونه له وسلونه
ګناه زموږه خپله ده، د بل چا ځي نه ده — راځي چي نن په سوړه آفتونه له وسلو نه
د مینې د ورورولي زیري به هري خوا نه کیږي — که شي ټول ولسونه تش لاسونه له وسلونه
د سولي ورورولي کاروان به بیا وطن ته راشي — له بو مځي که پاك شي دښتي غرونه له وسلونه
وسلو باندي بوازي د وطن ساتنه شه ده — نه دا چي وژل کیږي زموږ وروڼه له وسلونه

راځئ د وطن خلکو وسلي ټولي له وطن کړو
او که نه ګالو به هسي ډیر غمونه له وسلونه

۱۳۷۵/۱۱/۲ هـ ش - کابل

د ادب مرغلري

دز باره رزم و فتح طالبان

عارض

زنده جاوید باد رزم حق طالبان
چون کرین راه رحمت بستند ظالمان و جا بران
لرزه بر اندام خون خواران جانیان فتاد
سوخت باغ و بوستان آرزوي دشمنان
شش جهت جهتش فتاد اندر دل اعداي دین
خاك شد اندیشه هاي خام و پوچ خائنان
خارج از مرز وطن هم دشمنان در لرزه اند
کو شیدند رزم حق طالبان با ایمان
قاتلان و خون خواران در ګریز و احتضار
چون که رفت از دست شان خون خواري و چون تورپان
بعد از ین مردم به کشور سوي راحت میروند
جشن ها بر پاه نمودند پیر و برنا و زنان
مرحبا صد بارك الله طالبان راه حق
افتخار جاویدان نیریك بادا هر زمان
تود تود ملت افغان دعا ګوي شما است
سل با نسل است حکایات شما ورد زبان

د خلاصون په لاره

وفایار

زه د نجات او د خلاصون په لاره
یمه روان د خوږ ژوندون په لاره
له تورو شپونه راوتلي یمه
اخلم قدم د سباون په لاره
دلیري لیري فاصلو زړونو ته
بلن لیږم د پیوستون په لاره
غواړم رواني ګډوډي ختمي شي
ولس روان شي د سمون په لاره
چي هر باطل قوت تسلیم شي حق ته
ناست په امید یم د بدلون په لاره
ځومره به ښه وي خدایه ! پس له دي چي
ټول متحد شو د خوندون په لاره
نور مو اولس د غمو تاب نلري
وریت په انګار د زړه چاودون په لاره
ډیري مو زړوکي دي ترخي خاطري
چي مولیدلي د شیخون په لاره
راځئ سلیم عقل په کار واچوو
تر څو به تګ وي د جنون په لاره

لاهوتي نغمي

قاضي محمد حسن «حقیار»

زه چي د پامیر له څوکو اورم الهامي نغمي
شمعي د بقیع، د بدرماته یادوي نغمي
راکړه ذوالفقار چي بري میده کړم صلیبي ناقوس
واوروم د اندلس ولس ته بیا ملکوتي نغمي
که واوري مستقبل مي د سپرلي د ښکالو شور
ناځي به شیبلی د اسرافیل کي لاهوتي نغمي
د حورو اننګو او د جبین رنګین خالونو
زما د شهید کوښو غږوي انتقامي نغمي
اي ویده امته! ابدالي جذبي سړي نه کړئ
غواړي سومنات او پاني پت بیا غزنوي نغمي
ستړي د ملالي او ناهید اروا پیغام لري
اي همګوله! ټال د رباب کړئ انقلابي نغمي
احساس مي حقیقي دي د مجاز خمار دي نه یم
ساغر د حقیقت کي را نه راکړه کوثري نغمي
که وکړي د حقیار د سترګو تور بیا د معراج تکل
لمرشي کچکول، د حسن خیر غواړي له افاقي نغمي

کابل وزیر اکبر خان ۱۳۷۵/۱۱/٤

وفا خوره شي

سالك قصبه وال

ډیره چي بله شي رڼا خوره شي
چي اوښکي وچي شي خندا خوره شي
رانه په زړه کي کړي خوښي دننه
ستا چي له شونډو نه مسکا خوره شي
سپرلي چي وسپړي خوشبو له غوټي
خوښي په زړه کي د بورا خوره شي
بغض او کینه بیا ورنه کډه کوي
هغه زړګي نه چي وفا خوره شي
پام کړه پلو دي له مخ لیري نه کړي
دا آوازه به په دنیا خوره شي
د چا د اوښکو او خپګان له غمه
دا د سالك زړه کي سودا خوره شي

له اسلامه قربانیږمه

ملا اسد الله حنیفي

ځم د جنګ ډګر ته له اسلامه قربانیږمه
ځان غورځوم اور ته له لمبو سره لوبیږمه
رب که مل زما و د فساد خو نه به ورانه کړم
سامي چي په تن وي له دښمن سره جنګیږمه
نه کوم ارام تر څو دښمن نیست او نابود نه کړم
پل پر پل قدم اخلم هدف ته ورلنډیږمه
ماټ مي سره پوځونه د ایمان په ستر قوت کړله
عزم مي متین دي د منزل په لور خوځیږمه
لاره مي ده پاکه مقدس لورته روان یمه
ځکه هر ډګر کي پر فساد بریالي کیږمه
اخلم انتقام د سره وحشي کمون له زیږنډي
کړم پري تار اکونه پر مرچلو بي غورځیږمه
بند پر بند که پرې شم له اسلامه نه جاروزمه
هیلي مي دي پاکي خپلو هیلو ته ځاریږمه
ورکي به تباري کړم ضلالت ځاله به وسوزم
سترګه د سبا یم لکه لمر داسي ځلیږمه
تورو ترګمو کي څومره ځغلنده سفر کوم
شمه دا خلاص یم په تویان کي هم بلیږمه
وایي «حنیفي» زه ناکسانو په اور سوي یم
ژاړمه دردیږمه ځوریږمه کړیږمه

«سلطان» طالب

مهربان

بنازم غیرت شیران طالب
امیرو خسرو و یاران طالب
چراغ خانه شر و فساد را
شکستاند قوت ایمان طالب
ز دشمن رو نمیګرداند هرګز
کسي که خفته در دامان طالب
خوشا بر حال آن مرد مسلمان
که دارد بر سرش وجدان طالب
شده بر ما لبي عطف و عنایت
پس از لطف خدا احسان طالب
هزاران رستم و آرش فتاده
به هر سنګ و به هر میدان طالب
حقا که لایق تحسین و قدر است
امیر المومنین «سلطان» طالب
بګفتا «مهربان» از روي الفت
سرو جانم همه قربان طالب

ماه رمضان

نوشته : شمس راد

اسلام و احکام و دساتیر آن با فطرت انسان همګوني و همسازي داشته و انجام و اجراي آن براي مومنان بحیث حقیقت زندګاني شان در دنیا وسیله خوشبختي و در اخرت باعث نجات از آتش و حصول رضاي خداوند«ج» میشود . یکي از احکام و ارکان سوم دین مبین اسلام را روزه ما مبارك رمضان تشکیل میدهد که مسلمانان مطابق به احکام شرعي از سحر تا شام از خورد و نوش و قضاي غریزه جنسي خود را مي بندند و تمام جوارح و فکر و هوش را از خطا و منکرات نګهمیدارند .

مسلمانان مومنانیکه از روشنایي ایمان دل و دماغ شان منور است درین ماه عزم راسخ میګیرند تا اګر بیمار نشوند و مسافر نګردند و یا عذري شرعي براي شان پیش نیاید یکجا با اهل و بیت خویش و سایر مسلمانان روزه ګیرد خاص براي خدا و قبول امر خدا . روزه داران هردم خداي خو را یاد کنند چون نیت روزه بندند و سحر خیزند بیاد خداي خویش خیزند و نماز بجا آرند خدا را یاد کنند و افطار نمایند خدا را یاد نمایند چون ګرسنه و تشنه شوند خداي خود را یاد کنند و چون بخواب روند به آرزوي دو باره بیدار شدن در سحر باشند خدا را یاد و دوست دارند و رهبر دانند و بنام او زندګي کنند و بنام او بمیرند و در قیامت بنام او برخیزند و حشر دهند . و خاص و خاص برضاي خداي خویش روزه ګیرند و روح و روان را از زنګار ګناه و پلیدي ها مصؤن نګهدارند و روزه خاص و خاصان را پروردګار عالمیان خود اجر و پاداش دهد که کسي دیګر از اندازه اجر و پاداش آن آګاهي ندارد .

روزه رمضان براي امم دیګر نیز از طرف پروردګار امر شده بوده است چنانکه پروردګار فرموده است : « اي کسانیکه ایمان آورده اید روزه را بر شما فرض ګردانیده ام طوریکه بر امم پیش از شما نیز آنرا فرض ګردانیده بودم تا بدینترتیب پرهیزګار شوید . »

ماه رمضان را در تورات بنام«حط» یعني زایل کننده ګناهان در انجیل «تات» پاك کننده ګناهان در زبور ماه رمضان «طاب» پاك کننده ګناهان و در قرآنکریم از «رمض» یعني سوزنده ګناهان نامیده است .

روایت است که ماه رمضان را پانزده خصلت است :

۱ - روزي روزه داران زیاد میشود .
۲ - مال و ثروت روزه دار افزون میګردد. ۳ - هر آنچه روزه دار مي خورد در طاعت او محسوب میشود. ٤ - برکت در کار هاي روزمره پدید میشود . ۵ - فرشتګان براي روزه دار طلب آمرزش میکنند . ٦ - رمضان فعالیت شیطان را بند میکند . ۷ - در هاي رحمت درین ماه ګشاده میشود ۸ - در هاي جنت باز و در هاي دوزخ درین ماه بسته میشود ۹ - در هر شب رمضان هفتصد هزار عاصي بخشیده و آزاد میګردند . ۱۰ - در آخرین شب رمضان تمام عاصیان روزه دار آزاد و بخشیده میشوند. ۱۱ - در هر شب رمضان جنت را براي روزه داران مي آرایند. ۱۲ - دعاي روزه دار مستجاب میګردد . ۱۳ - تن روزه دار از ګناه پاك و منزه میګردد . ۱٤ - خشنودي خدا از روزه دار حاصل میګردد . ۱۵ - در شب هاي جمعه رمضان به تعداد آزاد شدګان و بخشیده شدګان یك هفته افزودي بعمل آمده و بخشیده میشوند .

روزه ماه صبر و شکیبایي است صابران مخلصان پروردګار اند چنانکه سرور پیامبران فرموده اند: « الصوم نصف الصبر » و « الصبر نصف الایمان» یعني نصف ایمان صبر است و نصف صبر روزه .

روزه را خداوند بزرګ « ایاماً معدودات» نامیده است یعني ایام شمرده و رعایت آن مطابق به توان بشري انسان است. و پیامبر ﷺ در مورد آن فرموده است : « و هو شهر المواسات» یعني ماه رمضان ماه برابري است که هنګام عبادات همه برابر باشند و چون داخل روزه شوند نه توانګر چیزي بخورد و نه بینوا ، و در میدان بندګي با هم یکي شوند و بیاد آرند که در برابر پروردګار با هم فرقي ندارند و برتري هر یك وابسته است به تقوي .

ماه رمضان ماهي است که در آن تمام صحف مقدسه چون صحف ابراهیم«ع» تورات ، انجیل، زبور و سر انجام قرآنکریم نازل شده است .

روزه رمضان داراي فواید و فیوضات و برکات روحي ، جسمي و صحي بوده است و ماهي است خیلي پر برکت . و از نګاه فواید صحي آن میتوان از معادل نګهداشتن امراض فشار خون، جلوګیري از چاقي و آب شدن شحم هاي متراکم شده در بدن که در طول یازده ماه در اثر غذا خوردن جمع میشوند و هم ترمیم و دو باره فعال شدن حجرات مرده معده که در اثر پر خوري فلج میشوند و هم مداوي امراض قند بوسیله روزه ګرفتن و سفلیس و اقلیج تذکار داد. چنانکه پیامبر بزرګ در مورد فواید صحي آن فرموده است : « روزه بګیرید و صحت تان را اعاده کنید » و ماهي رمضان ماهي است که خداي پاك با آب توبه و انابت دلهاي بندګان را بشوید و به آتش ګرسنګي و تشنګي تن ایشان را بسوزاند و از اوضاع و احوال بیچاره ګان و ګرسنګان و تشنګي تن ایشان را بسوزاند و از اوضاع و احوال بیچاره ګان و ګرسنګان و تشنه ګان و صحراي سوزان محشر آګاهي یابند و از سستي ایمان نجات یابند و ایشان را عقیدت استوار شود و از غفلت برهند و بخدمت خداي خود و مخلوق وي به پا ایستند و براي زندګي امروز و فردا طوریکه شایسته عزت مسلمان و مسلماني است آماده ګردند و روشنایي برکت این ماه رباني و مهمان دل و دماغ ایشانرا منور ګرداند و روزیکه اجل شان فرا رسد در پناه رحمت یزدان و در حریم رحمت آن روند و چون در رستاخیز برخیزند به جهاني روند که ګفتار باشندګان ن ها سلام و صلح است و فضاي آن سعادت جاویدان و مهر یزدان .

و همچنان رمضان را شبي است خیلي ها میمون و پر بار بنام لیلة القدر و در فرجام از بارګاه اقدس الهي استدعا مینمایم که آن مهماناني را که بدون عذري درین طریقت کوتاهي کرده اند نیز با لطف و رحمت بي پایانش ببخشاید و بصراط المستقیم هدایت فرماید تا در روشنایي هدایت پروردګار درآینده بسوي پروردګار خویش را بیابند و فرمان بردارند و از نافرماني بپرهیزند و روزه ګیران را نیروي مزید ببخشد و غافلان را رهبر شوند تا بین سپاهي غفلت و سپیدي، خدمت بخلق الله و راه روشن را بر ګزینند و در راه حق و راستي و راه بندګي و روزه داري همیشه پویان باشند .

آمین یا رب العالمین

ایا د طالبانو بري د مجاهدینو ماتي ده ؟

محمد صدیق «پتمن»

په دي لیکنه کي د جهاد د مقدسي کلمي ځیړنه نه بلکي په افغانستان کي د جهاد او مجاهدینو په اړه یو ځغلند نظر اچول کیږي . د جهاد له ټکي سره افغانان په عام ډول د ثور د کودتا وروسته او په ځانګړي ډول د روسانو له یرغل راهیسي اشنا شول او عملاً یي د جهاد ټکي زده او پیاده کړ . په افغانستان کي مجاهد هغه چاته ویل کیده چي د خلقیانو او پرچمیانو او بیا یي د روسانو په مقابل کي مجاهده کوله ، مجاهدین څوك ؤ؟ اکثره دا خبره سمه نه ده توضیح شوي دا ځکه چي د جهاد په اړه مشخصو خلکو د غږ پورته کولو امکانات لرل او دوي کوښښ وکړ چي د مجاهد ټکي انحصار کړي . ولي په حقیقت کي باید په افغانستان کي د مجاهد خطاب د افغانستان مؤمن ملت ته وشي نه څو ډلو او افرادو ته . دا ځکه کله چاته د جهاد عملي تاریخ ور یاد وي نو په یو ځغلند نظر ورته معلومیږي چي جهاد چا پیل کړي او چا بري ته رسولي دي .

د لمر په شان ځرګنده ده چي جهاد د افغانستان مومن ملت لومړي د خلق پرچم او بیا د روسانو د یرغل په مقابل کي پیل کړ دا جهاد کوم ځانګړي قشر په افغانستان کي شروع کړي نه دي بلکي د افغانستان د ملت د هر قشر وګړي د خپل توان په اندازه ونډه پکي اخستي ده . که د جنګ د سنګر تنګیالي مجاهد ټوپك اخستي ؤ نو د قلم تومیالي هم کرار ناست نه ؤ د جهاد په باب قضاوت باید په انصاف سره وشي له دي څخه باید سترګي پټي نشي چي ددي خاوري بچي بچي په جهاد کي ونډه اخستي ده د افغانستان هر تیګه او تږه به په دي خبره د لوي خداي«ج» په حضور کي شاهدي ووایي چي مجاهدین څوك دي یي له شکه کله چي د لوي خداي«ج» په امر دوي ګویا شي نو ویه وایي چي ددي ظن نر سنځي ، ماشوم او ددوي پوري تړلي د دوي شتمني ولو که هغه د دوي په ونډرو لاړ حیوانات هم ؤ د دوي په اراده یي په جهاد کي ونډه اخستي ده او د لوي خداي«ج» د رضا د کلمة الله او دهیواد د خپلواکي لپاره یي هر څه په ورغوي کي نیولي ؤ . ددي مجاهد ملت هدف یي ریا قرباني وه چي د نړي له مخ څخه د کمونیزم کمبله ټوله شوه او زموږ له هیواد څخه روسان په شرمیدلي صاتي سره ووتل دنیا د افغانانو په هست افرین ووایه او دوي ته یي د احترام سر ټیټ کړ افغانانو د جهاد په وخت کي خپل هر څه په مادي لحاظ له لاسه ورکړل هیواد یي کنډواله شو . دوي کډه په سر، سر وهلي بي وهلي په نورو هیوادونو کي د مهاجرت له زجر او کړاوو څخه ډکي شپي تیري کړي دوه میلونه شهیدان، تر یو نیم میلیون زیات معیوبین په لکونو کونډي او یتیمان د جهاد وروسته ددي ملت د قربانیو بیلګه ده .

خو له بده مرغه د افغانستان د مومن او مجاهد ملت دغه د جهاد او مجاهد خطاب څو ډلو په ځان پوري محدود کړ . دوي غوښتل د خلکو په سترګو کي خاوري واچوي او داسي وښایي چي ګوندي مجاهدین دغه د ګوتي په شمار څو کسان دي . ولي د الهي فیصله بل څه وه ، هغه وخت چي د کمونستي رژیم وروستني کړي ماتي شوه او په اصطلاح د مجاهدینو حکومت جوړ شو داسي فکر کیده چي اوس نو د واقعي مجاهد وظیفه پاي ته رسیدلي ده او نور باید د هیواد د سوکالي او د جنګ د وخت د زخمونو د رغولو لپاره کار پیل شي تر څو د افغانستان مؤمن او مجاهد ملت د خپل فداکاري او سرښندني ثمره وګوري خو له بده مرغه دغه مرحله د هیواد د ګټلو وپاړونو د لوټولو او باقي د نشت د حساب راپاتي شتمني د لوټ او تالان مرحله شوه، ځني هغو کسان چي پرون پري د مجاهد ګمان کیده له مخ څخه یي نقاب پورته کړ او د کمونستانو د ماموریت پاتي مرحله یي تکمیلول غوښتل، دا تش په نوم د خیرو بدلون ؤ نه بواځي دا چي د مجاهدینو حکومت جوړ نه شو بلکي د جهاد او مجاهدینو بیخ او جرړه پکي ووتله ، روسانو د خپلو او د هغوي لاس پوڅو د خیانتونو او جنایتونو د هیرولو په خاطر دغه نوي قدرت ته رسیدلي ډلي د مجاهد په نامه دومره وشرمولي چي کمونستان هسکه غږي ګرځي، روسانو لا هم د دوي په غاړه کي پري اچولي او خپل ټول ته یي ګډوي چي انجام به یي انشا الله د افغانستان خلك وګوري او هغه به د دوي د بادار او د دوي له شرم او رسوایي څخه ډکه ماتي او د بادار غیري ته پنا وړل وي .

اوس به راشو د مجاهد، مقصد او ټوپکیانو فرق ته : مجاهد هغه څوك ؤ چي د الله رضا اعلا کلمة الله او هیواد خپلواکي او اسلامي نظام یي ارزو وه او . دغه خلك هغه وخت چي روسان ووتل او د نجیب رژیم نسکور شو دوي خپله دنده پاي ته رسیدلي ویلله ، ټوپك یي پاك کړ او قلم کیښود او په فکر کي شول چي د هیواد د بیا وداني او سوکالي فرصت په لاس ورشي، ولي له بده مرغه حالات بدل شول او دغه فرصت ناشوني شو ، د هیواد د پت او عزت دښمنانو د هیواد په لوټولو او ددي هیواد د له منځه وړلو پلان طرح او د عملي کولو دنده یي په غاړه واخسته ، هیواد په اداري لحاظ تجزیه شو او مختلفي سیمي د تنظیمونو او شوراګانو تر نامه لاندي د نورو هیوادونو له خوا اداره کیدلي د هیواد استقلال او ځمکني بشپړتیا له منځه لاړه او افغانان له هر راز تهدید سره مخامخ شول، د سر ، مال، ناموس او عزت لوټ او تالان شروع شو ، د وخت واکدارانو په قدرت کي د پاتي کیدو په خاطر هره ناروا کوله او هره ناروا یي منله، په داسي بد حال کي د لوي خداي«ج» له دربار پرته بله د امید لاره نه وه ، لوي خداي«ج» په خپلو بنده ګانو رحم وکړ د جهاد او مجاهدینو د هیلو د پوره کولو کاروان بیا منزل ته راووت له لوي قندهاره یي پیل وکړ تاریخي هرات ورته غیر پرانسته . لوي پکتیا ورته پلنه ورکړه ننګرهار چي د کابل د بري لاره شوه او په سر لوري د اسلام او هیواد د نجات کاروان د کابل په تاریخي ښار ورننوت، بري په بري پسي د لوي خداي«ج» نصرت او د خلکو سلامي ورسره و اودي. هوا دا خبره پاتي شوه چي دا کاروان له چا څخه جوړ دي؟ زما له نظره دا کاروان هغه د پرون د جهاد مقدس کاروان دي چي د بري په لور ګړندي ګامونه اخلي خپل رسالت سرته رسوي او هیواد بچي بي سلامتي کوي دا کاروان د مجاهدینو کاروان دي او د جهاد اهداف چي په متحد او سر لوړي افغانستان کي اسلامي حکومت او سرګاله ټولنه یي شوره اهداف دي پر مخ بیایي نو باید ووایو چي د طالبانو د اسلامي تحریك بري په حقیقت کي د مجاهدینو بري دي نه ماتي ځکه دغه تحریك د هیواد صالحو بچو څخه جوړ دي . د هیواد علما یي تر مخه دي او نور اقشار یي ملاتړ کوي، دا په حقیقت کي د جهاد مقدس کاروان دي چي د افغانانو په تاریخي هیواد کي یي شکل نیولي دي. موږ باور لروچي دغه کاروان به نه تم کیږي خپل رسالت به سرته رسوي او افغانستان به انشا الله بیا سر موټي او خپلواك هیواد جوړوي .

یك شاهد عیني ...

تجاوز نمایند .

هكذا مردم از ایشان خواستند در صورتیكه خود مردم شمال به اثر قحطي و قیمتي به قتل تدریجي مواجه اند قوماندانان شان مواد خوراكي را به تاجكستان ازبكستان نباید صادر نمود اما حكمرانان به این خواست مردم هیچ وقعه، نگذاشتند .

به تاریخ ۱۷ قوس یك بار دیگر كاسه صبر مسكونین این ولایت لبریز شده و به تظاهرات وسیع پرداختند مردم به شكل اعتراض تصویر هاي رهبران شان !!! را سوختاندند و بر ضد رئیس جمهور و صدراعظم !!!! شعار میدادند و میگفتند كه اینها دروغگو ، وعده خلاف ، خود خواه و جاه طلب هستند آنها به وعده و قسم « بیت الحرام» احترام نكردند چطور با ما وفا دار و صادق خواهد بودند . تظاهر كنندگان از رباني ، حكمتیار و سیاف خواستند تا با آنان مستقیماً صحبت كنند اما جز نماینده رباني كسي دیده نشد وي به آنها تعهد سپرد كه در طول سه روز امنیت تأمین میشود ، جلو قطاع الطریق و مجرمین گرفته میشود اما به همان شب در چوك كند ز سراي پوست فروشي تماماً تاراج گردید .

افراد اداره شر و فساد در مقابل مردم بي دفاع به وحشت و ظلم متوصل میشوند به تاریخ (٤) جدي ساعت (٨) صبح به موتر مملو از سواري كه از خان آباد به سوي كندوز در حركت بود در مسیر راه از طرف یك فرد مسلح مربوط به میرزا ناصري امر توقف داده شد چون موتر از سواري مملو بود و گنجایش سواري دیگر را نداشت راننده موتر را متوقف نساخت در مقابل جنگجوي بي هدف به سوي موتر فیر نمود كه به اثر آن دو تن شهید و دو تن دیگر شدیداً مجروح گردیدند .

همچنین یك تجار كه از ساكنین ولایت كند ز میباشد در ولایت تخار از طرف یك قوماندان جمعیت اختطاف شده و در بدل رهایي آن خواستار یازده كیلو طلا شد .

شاهد عیني مي گوید به تاریخ (١٤) قوس نیز در خان آباد از طرف مردم مظاهره صورت گرفت و تظاهر كننده گان شعار میدادند : اداره، كه نمیتواند در یك ولسوالي امنیت را تأمین كند چطور امكان دارد كه در تمام كشور وضع را آرام سازد . تظاهر كننده گان به رسم اعتراض خانه، والي ولایت كندوز را سنگ باران نموده ، مامورین ولسوالي را از مقر ولسوالي اخراج نمودند و فعلاً اداره امور این ولسوالي از طرف شوراي قومي اداره میشود .

شاهد عیني راجع به نرخ ها در آن ولایت گفت : تمام مواد خوراكي از طرف قوماندانان به تاجكستان و ازبكستان صادر میشوند فعلاً در كندوز قیمت یك سیر (هفت كیلو) گندم به (١٣٠٠٠٠) افغاني و قیمت یك سیر برنج شوله یي به (٢٠٠٠٠٠) افغاني و قیمت یك كیلو روغن به (٥٠٠٠٠) افغاني رسیده است در حالیكه به یك مامور عالي رتبه حد اكثر (١٠٠٠٠٠) افغاني پول دوستمي معاش پرداخته میشود .

شاهد عیني گفت مدت هشت سال میشود كه افراد متعصب جمعیت به ولسوالي ارچه كه برادران پشتون در آن بسر میبرند آب را قطع نموده و نهر ارچه را به دریا آمو وصل نموده اند . شاهد عیني مي افزاید همه مردم غریب و عوام آن منطقه از فرط قیمتي سراسیمه شده و منتظر به آمدن تحریك اسلامي طالبان میباشند .

بعد از فتح ...

بدولت اسلامي شان پیوسته اظهار آمادگي كردند كه دو شـــادوش مجاهدین اردوي اسلامي علـــیه نیرو هاي شر و فساد برزمند .

با پیوستن افراد متذكره ارتباط بین جبل السراج و ولسوالي هاي غوربند تامین گردیده مردم در فضـاي صلح آمیز و مطمئن به امور روزمره شان مي پردازند .

اهالي متدین آن ولسوالي ها از این فتح استقبال نموده ضمن حمایت و پشتیباني از دولت اسلامي وعده دادند كه بر علیه نیرو هاي شر و فساد و گلم جم میرزمند .

د هیواد د روان اقتصادي کړکیچ د حل ...

بادشاهي خوبونه ویني له دي لوي جنایت نه یي لاس نه دي اخستلي .

اوس چي اسلامي دولت د خداي «ج» په مرسته د بري په درشل کي دي په شمال کي هغه قوماندانان چي د ملت د وینو په زیښلو یي په کانتینرونو اوبوجیو پیسي پیدا کـړېدي اوس یي بازار ته عرضه کړېدي خارجي اسعار پري اخلي او تښتي.

هـساراز زمونږ د هیواد په څنو برخوکي افغاني بالکل له پولي دوران څخه لویدلي او ځاي یي خارجي اسعارو نیولي دي دا ټول ددي سبب شول چي افغاني کم ارزښتــــه شي او نرخونه لوړ لار شي .

په سراي شـهزاده کي مـو یو تن صراف امین جان خوستي ته وویل چي دکانداران د قیمتي پړه په تاسو او سیکړي اچوي تاسو څه وایئ ؟ هغه داسي ځواب راکړ : د نرخي لوړیدل په صرافانو پوري اړه نه لري، دا د هیواد په صادراتو او وارداتو پوري اړه لري، زمونږ صادرات نشته او ټول واردات مـو په همدي افغـانیو دي، افغاني بازار ته ډېري عرضه کیږي خو ډېر کمي بیرته بانك ته انتقالیږي. د اسلامي دولت مخالفین کلداري او ډالر اخلي موږ ته یو لوي پرابلم دا دي چي بانك مـونږ مجبوروي چي ورته افغاني واخلو خو بیرته یي له مونږ نه نه اخلي .

مـونږ په دي اړه چي ددي کړکـیچ د حل لاره کومه ده او حکومت باید څه وکړي د صرافانو دکاندارانو او اقتصـاد پوهانو نظرونه هم معلوم کړېدي چي په ترتیب یي لولو . اساسي فکتور د وارداتو کمښت او د صادراتو دیرښت دي . اسلامي دولت باید د صــادراتو دیرښت او وارداتو د کمښت لپاره اعظمي هڅه وکړي . همدارنګ د افغانستان بانك باید سفسایښي وضع او کله چي په مارکیټونو کي افغاني ډېره شي نو خارجي اسعار دي بازار ته وړاندي کړي او افغـاني دي خپله واخلي، صـنایع او فـابریکي دي خـلاصـي کـړي د حکومت تصدي ګاني دي بیرته فعالي ټي لکه ښاروالي، ګمرکونه او ... چي افغاني بیرته بانك ته انتــقال شي، دولت دي د خلکو لپاره د روزګار پیدا کولو په لټه کي شي، تولیـدات، صنعت او زراعت دي فــعال کړي، خلکو ته دي کرهنیز مواد ورکړي .

کابل پوهنتـون د اقتـصـاد پوهنځي فارغ استاد عبدالصمد د پوړتنیو څرګنده ونو بر سیره وویل چي پخوا یوازي زر ټنه ممیز موټر بهرته صادرول او ډالر مو لاس ته راوړل ، اوس په بین المللي مارکیټونو کي هیڅوك هم افغاني نه اخلي، یکار څو دا و چي مرکزي بانك د ملي تولید او ملي ضرورت سره سم نوټونه چاپ کړي واي خو داسي ونه شول. پخواني اداري ټول بانکي سیــسټمونه او پولي نورمانیف تر پښو لاندي کړل .

د افغانستـان اسلامي دولت باید د اقتـصاد د متخصصینو شوري ولري چي دولت ته په ټاکلو موضـوعاتو کي مشـوري ورکـړي . د روان بحران اساسي عـوامل وڅیړي. علتونه یي له منځـه یوسي او د دوي په مشـوره اقتـصادي پالیسي جوړه کړي .

اسلامي دولت دي له دوستو هیوادو، بین المللي مـارکیټ، نړیوال بانك، او مـوسسـوته پور واخلي او مرکزي بانك ته دي پانګه پیـدا کـړي او دا پیـسي باید یوازي په صنعت او زراعت کي مصرف شي . حکومت دي فوري اړتیاو ته د اولویت حق ورکړي .

استاد عبدالصـمد وویل : دا تن او پرون چي په موقتي ډول افغاني لږ لوړیږي او رالویږي دا د کوم اصولي معـیار له مـخي نه ده دا سـایکلو ژیکي یا ذهني تاثیر دي همدا وجه ده چي ژر بیرته خپل ارزښت له لاسه ورکوي .

مونږ د مالیي د وزارت د محاسباتو له رئیس اقتصاد پوه محترم عبدالسمیع «ولي» څخه وپوښتل چي د روان اقتصادي کـړکـیچ د حل لاره کـومـه ده او څه ډول کولي شو چي له پولي تورم څخه مخنیوي وکرو هغه داسي وویل :

عجالتاً دو راه وجود دارد راه طویل المدت و راه قصیر المدت .

١ - راه طویل المـدیت : سکتـور زراعت مورد توجه قرار داده شود تا از یك طرف تولید بلند رفتـه سبب تقلیل واردات و صرفه اسعار خارجي گردد و از جانب دیگر از اثر صادرات عاید اسعاري مملکت بلند برود .

٢ - راه قصیر المدت : راه قصیر امـدت آن است کــه دولت اسـلامي افغـانسـتـان از ممالك اسلامي و دوست کمك هاي مواد استهلاکي دریافت و آنرا به قیمت مطلوب بالاي کارمندان و اهالي کشور بفروش برسانند . ماحصل فروش مواد استهلاکي (افغاني) را حریق نماید تا از عرضه افغاني کاسته شود، و بالاخره به تدریج در طي سالها عرضـه افغـاني متناسب به تولیدات ملي گردد .

همچنین محترم عزیز احمد بنایي معاون سوم د افغانسـتان بانك و محترم شینواري مدیر عمومي پلان د افغانستان بانك در پاسخ سـوالات فـوق ما گفـتند : براي اینکه ارزش پول افـغـاني در برابر سایر اسعار خارجي ثابت و یا افزون گردد تدابیر ذیل باید روي دست گرفته شود :

چشمه عایداتي احیا و عواید بیشتر گردد، مصـارف به حد اقل پائین آورده شود ، به صادرات امتعه افغـاني توجه صورت گیرد از نشر پول جلوگیري شود و از تمویل مصارف نظامي از بودجه تا حد الامکان جلوگـیري گردد ، بصـورت اخص توجه صورت گیرد تا راه هاي مواصلاتي باز نگهداشته شده، صادرات صورتگیرد ، به صنایع رشـد داده شـود و فـابریکات صنعتي احیا گردد .

٢ - ملت به دولت و مـــــسـؤولین دولتي همکاري نموده در ساحات مختلف تولیدي و صنایع داخلي به خاطر ازدیاد آن توجه جدي نمایند، از مصـارف بي مورد جلوگیـري گردد ، در ساحات ساختـمان فـابریکات، موسـسـات تولیـدي زود ثمر سهم فـعال بگیـرند، از احتکار به نفع شخصي شان جلوگیري نمایند.

په پاي کي مو د افغانســتان بانك له لوي رئیس محـترم مولوي احســان الله «احسـان» سره په دي اړوند او څنو نورو موضوعګانو په اړه چي د افغانستان بانك پوري اړه لري مرکه کړېده له محترم مولوي احسان الله «احسان» نه موپوښتل چي د افـغـانســتـان بانك اعـلان کـړېدي چي دوستمي نوټونه او هغـه لس زریز نوټونه چي د سریال نمبر یي له ٣٢ نه لوړ وي د هیواد په پولي دوران کي د چلند وړ نه دي آیا دا کـار مـو د پولي تورم د مخنیـوي لپاره کړېدي او که څه نور اهداف هم لري؟ هغوي داسي ځواب راکړ :

دوستمي نوټونه څو ښکاره خبره ده چي جعلي دي او زمونږ د ګران هیـواد د اقتـصـاد د زیانمن کیـدلو له پاره چاپ شویدي او د لس زریز نوټونو په هکله باید عرض وکړم چي افـغـانــستان بانك چي د کومي روسي کمپني سره د ٦٠ میلیارده افغانیو د چاپ پروتوکول لاس لیك کړي و نو روسانو دا پیـسي ددي په ځاي چي په اصولي ډول د افغانستان بانك ته انتقال کړي د افغاناتو دښمنانو (رباني مسعود) ته یي په تخار کي ورکړلي او په قرار داد کي د یاد شـوي مقدار څو چنده یي ورته چاپ کـړي . مونږ چي د ملت له دښمنانو سره په مقابله کي یو غواړو د سیاسي او نظامي ماتي تر څنګ دښمن ته اقتصادي ماتي هم ورکړو چي الحمد لله خپل دي هدف کي بریالي شـوي هم یو . زمـونږ له اعلان سره دي ناچلو نوټونو خپل ارزښت بالکل له لاســه ورکــړېدي پخـوا یو امـریکایي ډالر په ٢٧٠٠٠ دوســتـمي نوټونو پلورل کـیـده اوس یي قـیـمت ١٢٥٠٠٠ افغانیو ته رسیدلي دي .

پوښتنه: که روسان نور نوټونه چاپ کړي او د سریال نومره یي له ٣٢ نه ټیټه ووهي بیا به تاسو څه اقدام کوئ ؟

ځواب : الحمد لله مونږ ویښ خلك یو او د مخالفینو د هري دسیسي د مقابلي توان لرو که روسان دا غلطي وکړي مونږ به یي هم ځواب ته ځان چمتو کړو.

پوښتنه : خلك ګیله لري چي بانك مونږ د وړو نوټونو په اخستلو مجبوروي خو زمونږ نه یي بیرته نه اخلي ؟

ځواب : دا طبعي ده چي د یو هیواد د پیسو ارزښت کم شي نو مشکل یي ډېر شي. د افغانســتان بانك د خپلو تیرو اعلانونو په تعقیب یو ځل بیا اعلانوي چي ٥٠ ګون او سل ګـون نوټونه زمـونږ د هیـواد په پولي دوران کي د چلند وړ دي بانك یي هم اخلي او لس فـیصـده او شل فـیصـده په معاشـونو او... کي هم ورکوي که چیري داسي نه وي او بانك دا نوټونه نه اخستلي نو بیا به صرافانو هم بیـځي نه اخـســتل دا چي په تفاوت یي اخلي معني دا چي بانك کي چلیږي .

پوښتنه : د افغاني د ارزښت د رالویدلو د مخنیوي لپاره مو څه اقدام کړېدي ؟

ځواب : د افغـانیو د ارزښت دړالویدلو اصلي عـاملین ټول هیـواد وال پیـژني کـه د تشــتیــدلي اداري مـــــسؤولینو د ملت په اقتصادي برخلیك لوبي نه واي کړي نو ننن به دا حالت نه و رامنځته شوي مونږ چي ناچل نوټونه د هیواد له پولي دوران څخه وغورځول د همـدي په خـاطر چي د افـغـاني ارزښت وساتل شي پخوا د یوي کلداري په مقابل کي ٦٧٠ افـغـاني پلورل کـیـدلي خـو زمـونږ له اعـلان وروسـتـه اوس ٥٥٠ افـغـاني د یوي کلداري په مقـابل کي پلورل کـیـږي مـونږ تر خپله وسه کوښښ کوو چي د پولي تورم مخه ونیسو

پوښتنه : افغانستان بانك پولي پشتوانه لري او که نه ؟

ځواب : الحمد لله افغـانسـتان بانك له دي اړخـه ډېر غني دي مونږ په ډېره پیـسانه پولي پشتوانه لرو.

پوښتنه : دوستـمي نوټونه څو شمـالي سیــموکي ویشل شـویدي او ډېرو عـوامـو اخستي دي ایا بانك دهغي معاوضه ورکوي؟

ځواب:دا د دوستم لپاره لویه ضربه ده دا نوټونه ډېر له هغه او د هغه له قوماندانانو سره دي مونږ د هیواد د شـمـالي سیـمـو اوسیدونکو ته مشوره ورکوو چي که دا ډول پیـسي ورسره وي نو په جنس دي یي بندي کـــړي او یا دي د اســــلامي دولت اصلي بانکنوټونه واخلي چي وروسـته بیا له ستونزو سره مخ نه شي

او څومره چي معـاوضـي پوري اړه لري نود جعلي بانکنوټونو معـاوضـه خو په ګرده نړي کي چانه نه ده ورکړل شوي .

پوښتنه : د مامورینو د معاش د ډېرښت او کوبون په هکله مو څه تصمیم نیولي دي او که نه ؟

ځواب:تر اوسه مو پدي اړوند تصـمیم نه دي نیولي مونږ هیله مند یو چي انشا - الله ډېر ژر به د ګلم جمو او مسعود او د خارني د ملیشو ټغر ټول شي، امن به تأمین شي بیا به ان شاء الله په دي اړه جدي تصمیم ونیــو مونږ ټولو هیوادوالو ته اطمینان ورکـوو چي مونږ خپله خوښي د دوي په خوښي کي لټوو او د دوي د هوساینې لپاره هر ډول هلي ځلي کوو .

پوښتـنه : داسي اوازي دي چي د پخوا په څیر اوس هم ځني خلك له مامورینو سره ســاز و باز لري ، په بازار کي واړه نوټونه ټولوي او بانك کي یي په غټو بدلوي . تاسي په دي اړه څه وایي ؟

ځواب : مونږ دي خبري ته متوجه یو د همدي کار د مخنیوي لپاره مو ټول شهري مسؤلین بدل کړېدي همدا راز د تعقیب لپاره مو د نظار هیئت ټاکلي خو بیا هم کـه چا ثابته کړه مونږ ورته د انعام اعلان کوو .

پوښتـنـهٔ : ځنو اقـتـصــاد پوهانو او سوداګرو مونږ ته د قیمتي او انفلاسیون دله منځه وړلو لپاره مشوري راکړېدي چي ستاسو محترم حضور ته مو هم وراندي کړلي تاسي په دي اړه څه وایي ؟

ځـــواب : د دوي نظر ډېر د ارزښت وړ دي څو زمونږ په هیواد کي شرایط جنګي دي نو ځکه د دوي مشـورونه د عمل جامه نه شو وراغوستلي ، د هیواد د صنعت او زراعت په هکله خو الحمد لله اسلامي دولت تر خپله وسه کوښښ کړېدي چي دا برخي فعالي کړي او ډېري فعالي شوي هم دي .

پوښتنه : ایا په راتلونکي کي د نویو نوټونو د چاپ خیال لري ؟

ځواب : مونږ قاطعانه اعلان کوو چي د نویو بانکنوټونو د چاپ هیڅ فکر هم نه لرو، دا موجود بحران د پیسو له ډېر چاپ نه پیـدا شـویدي، مـونږ چي هـمدا چاپ پیسي سنبال کړو هم ډېره ده .

پوښـتـنه : بانکي سـیـسـتم مـو د مـضـاربت بڼه لري که د فـیـصـدي (ربح معین) بڼه لري ؟

ځواب : مونږ چي راغلي یو نو سودي نظام مو ختم کړېدي او د مـضـاربت او مشارکت اصول مو پلي کړېدي مونږ پدي هکله مجلسونه دایر کـړېدي مشـوري مو کړېدي چي داسي شرعي لارو مو موچي د سودي نظام نه ډېر ګټهر روي چي د ملت مشکل مو هم رفع وي .

پوښتنه : ملت د بانکي د ساتني څه اطمینان ورکوئ ؟

ځـــواب : ملت چي د طالبـــانو د اسلامي تحریك تر زعامت لاندي دولت باندي د خپل ناموس، سر او ځان د ساتني اعتماد کړېدي نو د مادیاتو خو حتماً ډېر باور پري کوي. ملت ولیدل چي طالبان د غلو او غداراتو په ضد راپاریدلي او همدي احساس وررسره الهي نصرت ملګري کړ نو په بانك کي به د دوي امــانت څنګه نه ساتي .

پوښتنه : ملي سوداګرو ته څه پیغام لري؟

ځواب مونږ ملي سواداګرو ته وایو چي که افغانســتان خپل وطن ګڼي نو ددي وطن د ابادي لپــاره دي ســتي پهوهي فابریکي او کارخاني دي فعالي کړي، څومره یي چي وس وي له اسلامي دولت سره مرسته وکړي مونږ هم د شرعي اصولو په رڼا کي هغوي ته د همکاري لاږ ورکوو مـونږ له هیـواد نه بهر تکنوکراتانو او اقتصاد پوهانو ته هیله لرو چي زمونږ سره د هیواد په جوړښت کي مـستقیماً همکاري وکړي او که مـسـتقیـمـاً همکاري نه شي کولي نو خپل نظر دي راولیږي مونږ تیرو ورځو کي یوه غونډه جوړه کړي وه چي ډېر اقتصـاد پوهانو په کي ګډون کړي و اویو له یل سره د مشـورو او لارښوونو په رڼا کي مو لازم تصـمیمونه ونیول هیله لرم چي کـه لږ وضع ښـه شي همداسي یوه نړیواله غونډه جوړه کړو تر څو د خپل دردیدلي ولس ټپونه ټکور کړو .

پوښتنه:د شریعت اوونیزي په هکله مو نظر څه دي او مونږ ته څه مشوري راکوئ ؟

ځواب : د اسلامي دولت په جوړښت او د اسلامي نظام د قیـام په لاره کي د شــریعت اوونیـــزي رغـنده رول ډېر د ستاینې وړ دي .

شریعت چي د طالبـانو د اسـلامي تحـریك مـرکـزي نشـراتي ارګـان دي په رښتـوني ډول یي ددي تحـریك ترجمـاني کړېده، د اسلامي تحریك د دښمنانو خولي شـریعت اوونیـــزي مـاتي کـړېدي. ددي اوونیـزي سـیـاسي تبصـرو، مقـالو دیني مضـامینو د تحریك د اتلو مجاهدینو او عـامـو مـسـلمـانانو ذهنونه تل روښـانه کـړېدي. دا اوونیــزه زمـونږ په زړونو کي ځاي لري که وواېم چي ټول تحریك همدي اونیزي شکلي کړېدي افراط به مي نه وي کړي او وړاندېز مي دا دي چي څه ډول چي ددي اوونیـزي دړنو کـارکـوونکو تر اوسه پدي اوونیزه کي په اخلاص کار کړېدي په راتلونکي کي هم همداسي مخلص و اوسي او له لوي خــداي نه یي د تل لپـــــاره بریالیتوب غواړم .

با عبور سپاهیان اسلام از دهانهء سالنـــــگ وحدت ملی و تمامیت ارضی کشور عملاً تأمین میگردد

وحدت عقیدوي و ملي یك كشور و ملت سد عظیم و عملي بي مقابل اهداف و خواسته هاي استعماري اجانب بوده ، ملت ها از طریق حفظ وحدت ملي و عقیدوي خویش به مقاصد عالي ترقي و تعالي مادي و معنوي رسیده پرابلم هاي گوناگون اجتماعي خود را حل كرده میتوانند .

اگرملت ها وحدت ملي و عقیدوي خود را از دست بدهند هیچگاه در مقابل پرابلم هاي در پیش فایق و كامیاب نشده شاهد ترقي و تعالي را به آغوش كشیده نمیتوانند، توان و انرژي در دست داشته بشري ، مادي و معنوي شان در تقابل و تدافع همدیگر صرف شده ، مجال تحرك و فعالیت را در راه بهبود ، رشد و ترقي جامعه از اوشان سلب میتماید . نفاق و شقاق ملي و داخلي مصئونیت و قوت سرحدات جغرافیایي كشور را تضعیف نموده ، مجال دست درازي و مداخله مستقیم و غیر مستقیم را براي دشمن میدهد دشمن با استفاده از نفاق و شقاق داخلي در میان اطراف درگیر و متخاصم راه نفوذ كشوده به آتش درگیري ها پكه زده و به نفع خود از آن استفاده مینماید ، چنانچه اوضاع داخلي این چند سال اخیر كشور شاهد مدعاي ما میباشد . در گذشته ها هم متأسفانه كشور ما شاهد چنین فاجعه، دردناك برخورد ها و درگیري هاي داخلي میان هم بوده كه بر جریان رشد و تكامل سیاسي ، اداري و اقتصادي وطن اثرات ناگواري از خود بجاي گذاشت و براي اجانب بارها جرئت مداخله و تجاوز را بر حریم كشور ما داد . اما دامنه آن محدود به یك سلسله يي و حتي فامیل بود كه برادران آن سلسله روي بدست آوردن كرسي پادشاهي و زعامت كشور به روي همدیگر شمشیر میكشیدند و میجنگیدند . هیچگاه ریشه هاي ملیتي ، سمتي ، زباني و مذهبي نداشت كه بالاخره به آتش آن نفاق ها و ملوك الطوایفي ها ، فرد از آن سلسله و تبار بنام امیر عبدالرحمن خان با قوت قاهره و استبداد كم نظیري خاتمه بخشید و تاریخ به سعي و تلاش موصوف با استبداد و جباریت آن كه در راه اقامه حكومت واحد مركزي از خود نشان داد به چشم تحسین نگریسته و آن را یك مستبد و دیكتاتور با كفایت دانسته است .

اما این بار كشور و ملت تا دهن مسلح ما تنها به خود خواهي و جاه طلبي فردي ، قومي و تبار معلومي مواجه نبوده بلكه متأسفانه دست خوش هوس ها و تعصبات حزبي ، گروهي ، ملیتي ، سمتي و زباني يي گردیده كه كفر جهاني، دول و گروهك هاي متعلقه ناثره آن را بر افروخته و منافع بیخصوص سیاسي ، اقتصادي و مذهبي خود را از آن توقوع داشتند كه به نصرت الهي ان شا ، الله ابداً شاهد این آرزو هاي شوم و بدخواهانه خود را به آغوش نخواهند كشید . گرچه ملت مجاهد و مظلوم ما در جریان اعمال این هوس هاي شیطاني و كشمكش هاي خونین، بزرگترین قیمت جاني و مالي را پرداختند و نوامیس و سرمایه هاي شخصي و ملي شان بي محابا مورد دست برد و تجاوز قرار گرفت و بزرگترین دست آورد تاریخي شان كه افتخار همه امت اسلامي پنداشته میشد (جهاد) به سؤال مواجه گردید . وحدت ملي، تمامیت ارضي ، حاكمیت ملي استقلال و مركزیت نظام در كشور به خطر جدي مواجه گشت حكومت هاي جبار محلي و ملوك الطوایفي بر مقدرات ملت ما مسلط گردانیده شد و همه سعي و تلاش هاي ملي و حلقه هاي بین المللي براي اقامه صلح و امنیت در كشور بي اثر ماند ، مبالغه نخواهد بود اگر گفته شود كه ملت مستضعف ما از عالم اسباب نا امید و مایوس گشتند و تمام امید هاي شان را به مسبب الاسباب بستند حال و قال ملت ما چنین شد كه رو به بالا و دست به دعا شده و منتظر رحم و كرم خالق و مالك شوند كه هیچ چیز و هیچ كس نمي تواند كه آن را عاجز و بي وسع گرداند ، یقیناً كه خداوند اجابت مضطر و بیچاره، را كه بخواهدش میشماید . همان بود كه خداوند جبار و قهار روي سنت همیشگي خود قشر و طبقه ئي را كه در جامعه از نگاه وضعیت مادي و دنیوي نا توان و بیچاره میشمود (طالبان دیني) خلعت مجددیت به تن كرد و به میدان معـاـن شمشیر بدست، همت شافتن به كارزار داد و چنین نصرت شان نمود كه انبیا ، و اولیا ، به آن نواخته شده بودند . بلي طالبان این فرزندان و وارثان انبیا ، « علیهم الصلاة و السلام» به نصرت الهي كشور و ملت را از خطرات و تهدیدات كه در پیش بود سبب نجات گردیدند ، تمامیت ارضي ، حاكمیت دیني و ملي ، استقلال و مركزیت كشور را تأمین و تضمین كردند و به شمول مركز بر بیشتر از سه حصه كشور حاكمیت دین خدا و شریعت مصطفي «ص» را تنفیذ نمودند و حالا در دهانه سالنگ منتظر حصول هدایت و فرمان مركز عالي فرماندهي نیرو هاي مسلح كشور بوده تا با عبور از این دره، كوهستاني كه ملیشه هاي مزدور به زعم و گمان فاسد و نا رس خود سالنگ را مرز طبعي فاصل میان شمال و جنوب كشور میدانند ، وحدت ملي و تمامیت ارضي كشور را عملاً تأمین و تضمین نمایند و چنین خواهد شد انشا ، الله .

سمت شمال كشور كه مركز فرماندهي و مسقط الرأس ملیشه هاي مزدور و پایگاه نیرو هاي فراري شر و فساد بوده شرایط ، حالات و ارتباط وسیع اهالي و فرماندهان مجاهدین، چنین نشان میدهد كه مردم آنجا همه جانبه منتظر كاروان صلح ، امنیت و نجات طالبان بوده و به مجرد ورود نیرو هاي اردوي اسلامي از دهانه، سالنگ آماده، قیام عمومي و جهاد علیه نیرو هاي ملیشه شده و در فرصت كمي به حاكمیت و موجـودیت عناصر ملیشه و نیرو هاي فراري شر و فساد خاتمه داده شده نظـــام مركزي واحد اسلامي را كه اولین و اصولي ترین ضرورت اجتماعي و سیاسي مـــلت ما میـــباشد در كشور حاكم ، تمـــامیت عام و تام ارضـــي و وحدت ملي را انشا ، الله تأمین خواهد كرد .

اطلاعیه

دفتر مركزي راهنماي معاملات ساحل واقع ماركیت مكروریان سوم به اطلاع میرساند كه جایداد ورثه، الحاج قیوم «قدرت» و الحاج فیض محمد «قدرت» واقع جاده، میوند كه شامل هوتل خلم و مهمانخانه و دكاكین آن میگردد بالاي حاجي احمدزي ۆ برادران به بیع قطعي بفروش رسیده است از اینكه مالكیت تغیر نموده است بناً به اطلاع دوایر موسسات و اشخاص انفرادي رسانیده میشود كه اگر از تاریخ نشر اعلان الي مدت ده یوم خود یا وكیل قانوني شان جهت تصفیه حسابات سر قفلي و تخلیه و تسلیمي دكانها حاضر نشوند دكانها در حضور هیئت باز ، تخلیه و با مستاجران جدید عقد قرار داده میشود آنگاه حق شكایت را ندارند .

اطلاعیه

دفتر مركزي راهنماي معاملات ساحل واقع ماركیت مكروریان سوم به اطلاع میرساند كه جایداد ورثه، الحاج قیوم «قدرت» و الحاج فیض محمد «قدرت» واقع جاده، منتوي كابل (جاده، میوند) كه شامل هوتل خلم و مهمانخانه آن با تمام ملحقات بشمول دكاكین آن بالاي حاجي احمد زي و برادران باشنده لوگر توسط وكیل شرعي شان محمد نعیم و محمد عظیم به بیع قطعي بفروش رسیده است . بناً به اطلاع دوائر و مؤسسات و اشخاص انفرادي رسانیده میشود كه از تاریخ نشر اعلان الي ده یوم خود یا وكیل قانوني خویش را جهت تصفیه حسابات به خصوص مسائل سرقفلي و غیره به آدرس راهنماي معاملات ساحل فرستاده در غیره آن كار اعمار و ساختمان مجدد جایداد متذكره آغاز و آنگاه هیچكس به خصوص دكانداران سابقه حق شكایت را ندارند .

د ګوون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
خلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
روپا او امریکا	US$75	US$150

یـــادونه

شایي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چي دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

(اداره)

SHARIAT WEEKLY

Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan,
Tel # : 21381 - 62859